شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک مرکزی نشراتی ارګان

نبوي ارشاد

کله چي رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو څخه څوك په کار مقرراوه نو داسي هدایت به یي ورته وکړ: خلکو ته د ښو عملونو په ثواب زیري ورکړي او ډیر یي مه ډاروي چه متنفره شي د هغو سره له آساني نه کار واخلي، او سختي مه کوي. (بخاري او مسلم)

الهي فرمان

که مرسته (مدد) وکړي له تاسي سره الله (لکه چي په بدر کي یي وکړه) نو نشته (هیڅ) غالب پر تاسي باندي او که مرسته (مدد) و نه فرمایي له تاسي سره (الله لکه چي په احد کي یي پریښودي) نو څوك دي هغه چي مرسته (مدد) به وکړي له تاسي سره وروسته له هغه (خذلان د) الله ؟ (هیڅ څوك نشته!) او خاص پر الله دي پس توکل (اعتماد) وکړي مؤمنان. (ال عمران-۳)

دوهم کال څلور څلویښتمه ګڼه پرله پسي (۹٤) | چهارشنبه د ۱۳۷٦ هـ ش کال د لرم دمیاشتي (۱٤) | د ۱۹۹۷ میلادي کال نومبر (۵) | د ۱٤۱۷ هـ ق کال د رجب المرجب (٤)

د امارت نوم د اسلامي خلافت تسلسل دی

مولنا راحت ګل

نامتو عالم او د مرکز علوم اسلامیة راحت اباد مدیر مولنا راحت ګل د عالیقدر امیر المؤمنین لخوا په اسلامي امارت باندي د اسلامي دولت د نوم بدلولو تود هرکلي کړیدی او ویلي یې دي چي ؛ اسلامي امارت د اسلامي خلافت تسلسل دي نومــوړي ویلي دي چي د دولت نوم

څلورم مخ

مجلس عالی وزرا تحت ریاست عالیقدر امیر المؤمنین دایر گردید

تحت ریاست عالیقدر امیر المؤمنین مجلس عالي وزرا در شهر کندهار دایر گردید خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد : در جلسه که محترم الحاج ملا محمد رباني رئیس شوراي سرپرست و ملا عبید الله اخند سرپرست وزارت دفاع ملي نیز اشتراك داشتند پیرامون اوضاع

ص ٤

تذکر خطر ایمان است اگر به این کلمات مقدس بي حرمتي کنید .

به تعداد یك هزار و پنجصد تن از مجاهدین و جوانان ولسوالي دهراود عازم خطوط مقدم جهاد گردیدند

اجتماع علما ، مشران و موسفیدان ولسوالي دهراود ولایت ارزګان اخیرا اظهار داشتند که با سرو مال از حاکمیت نظام اسلامي در کشور دفاع مینمایند .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد طي این اجتماع بعد از آنکه چند آیت از قرآن عظیم الشان قرائت گردید محترم ملا د.ع.ا.اخند قوماندان جبهه کندز در رابطه به اهداف و پروگرام هاي امارت اسلامي افغانستان صحبت نموده از مردم ولایت ارزگان خواست تا در تطبیق شریعت غراي محمدي «ص» و دفع و طرد دشمنان وطن و مردم از هیچ گونه سعي و تلاش دریغ نورزند.

سپس چند تن از موسفیدان به نمایندگي از سایرین حسن حمایت و پشتیباني از اهداف امارت اسلامي افغانستان

ص ٤

د مخابراتي خدمتونو د بیا احیا کولو پروتوکول د اسلامي امارت او سپیشل لمیټډ شرکت تر منځ لاسلیك شو

د مخابراتي خدمتونو د بیا احیا کولو پروتوکول د افغانستان د اسلامي امارت او د سپیشل لمټډ شرکت ترمنځ لاسلیك شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : پروتوکول د افغانستان اسلامي امارت له خواد مخابراتو وزارت سرپرست محترم الحاج ملا الله داد طیب او د سپیشل لمټډ شرکت له خوا ددغه شرکت رئیس محترم الحاج عبدالباقي «باري» لاسلیك کړ .

په دي پروتوکول کي چي د خسرو بهیر بي پوولس میاشتي دوام درلود په لومړیو پړ اوکي د کابل ښارپالو لپاره کندهار، ننګرهار او د هرات د ښارپانو لپاره او په وروستي پلو کي

څلورم مخ

د شپږ سوه زرو ټنو غنمو د پیرودني تړون د افغانستان د اسلامي امارت او د پاکستان اسلامي جمهوریت تر منځ لاسلیك شو

د شپږ سوه زرو ټنو غنمو د پیرودني تړون په دې وروستیو وختو کي د افغانستان د اسلامي امارت او د پاکستان د اسلامي جمهوریت تر منځ ددغه هیواد په پایتخت اسلام اباد کي لاسلیك شو .

د افغانستان په اسلامي امارت پوري یوه مربوط خبر ځاي د باختر د اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ : دغه تړون د دواړو هیوادونو د لوړ رتبه مقاماتو تر منځ له خبرو او مفاهمي وروسته لاسلیك شو .

تړون په داسي حال کي چي د پاکستان د اسلامي جمهوریت د خوراکي موادو وزیر ښاغلي عبدالستار لالیکا هم حاضر و د افغانستان اسلامي امارت له خوا په اسلام اباد کي د افغانستان د اسلامي

څلورم مخ

به خاطر حمایت و پشتیباني از امارت اسلامي افغانستان جلسات وسیع دایر گردید

مشران و نماینده گان اقوام و قبایل ولسوالي هاي کنهواز ، وازه خوا ، و نروه ولایت پکتیکا و مشران مردم ولسوالي بهود ولایت ننگرهار اخیراً طي جلسه هاي جداگانه در آنولایات یکبار دیگر حمایت و پشتیباني شانرا از امارت اسلامي افغانستان اعلام کردند .

طبق گزارش خبرنگاران آژانس اطلاعاتي باختر از آنولایات در جلسه مشران ولسوالي هاي ولایت پکتیکا مولوي کرامت دیره

ص ٤

از سومین سالروز فتح تاریخی شهر کندهار طي محفل پر شکوهي تجلیل بعمل آمد

از سومین سالگرد فتح مبین ولایت کندهار توسط تحریك اسلامي طلبا کرام به تاریخ ۱۳ عقرب طي اجتماع بزرگي در آن شهر تجلیل بعمل آمد .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر کندهار گزارش میدهد در این اجتماع بزرگ علما ، بزرگان، متنفذین، هیأت رهبري ، مسؤلین ولایت و جمع کثیري از مردم متدین و بادیانت شهر کندهار اشتراك ورزیده بودند .

در آغاز چند آیه متبرکه از قرآن پاك قرآئت گردید ،بعداً محترم الحاج ملا محمد حسن رحماني رئیس تنظیمه زون جنوب غرب و والي ولایت کندهار در رابطه به ارزش و اهمیت فتح شهر کندهار توسط طلبا ، کرام ، انفاذ احکام شرعي، تامین صلح ، امنیت سراسري و بهبود وضع زنده گي اجتماعي مردم در همه ساحات مفصلاً صحبت نموده و این روز تاریخي را روز پر افتخار براي مردم مسلمان افغانستان دانست .

متعاقباً محترم مولوي حمید الله فایز معاون ریاست تمیز ، داکتر رحمت الله رحمت مدیر مسوول روزنامه تاریخي طلوع افغان کندهار ، محترم مولوي عبدالواحد عالم مشهور ستره محکمه، محترم مولوي معین الدین ، محترم مولوي الله نور اخند زاده بالترتیب بیانیه هاي عالمانه شانرا بمناسبت سومین سالگرد فتح مبین ولایت کندهار ایراد نموده تاریخ سیزدهم عقرب ۱۳۷۳ هـ ش را نقطه عطف در حیات سیاسي، اجتماعي و سر آغاز پیروزي هاي هر چه بیشتر تحریك اسلامي طلباي کرام دانستند .

څلورم مخ

د حزب اسلامي د مرکزي نشراتي ارګان شهادت ورځپاڼي سر محرر :

محمد نذیر بشارت ته انګلستانو سیاسي پناه ورکړه ؟؟!!

د حزب اسلامي د مرکزي نشراتي ارګان شهادت ورځپاڼي سر محرر او د حزب اسلامي نامتو او مخکښ غړي محمد نذیر بشارت چي ډیر وخت د پیــام ازادي راډیو تلویزیون مسؤول هم پاتي شــویدي په دې وروستیو کي انګلیسانو سیاسي پناه ورکړیده .

لیږوال خبر دي چي د بشارت پناه انګلستان ته په داسي شرایطو کي تر سره شویده چي هغه هیواد (انګلستان امهاجرین (ریفوجي) بالکل نه مني ، همدا راز حزب اسلامي چي ځان ته یي اصولي او له غرب او اروپا سره نه پخلا کیدونکي ښکر وایه او له غرب او اروپا سره د ایکو درلودلو

ص ٤

د کانونو او صنایع د وزارت سرپرست د یونیکال کمپنی د دفتر له رئیس او ملګري هیأت سره ببي وکتل

د کانونو او صنایعو وزارت سرپرست د عقرب په ۱۳مه له غرمي مخکي د خپل کار په دفتر کي په اسلام اباد کي د یونیکال کمپني د دفتر له رئیس او له ملګري هیأت سره یي وکتل .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دي کتنه کي د کانو او صنایعو وزارت سرپرست محترم مولوي احمد جان او د یونیکال کمپني هیأت د علاقي ور موضوعګانو او د افغانستان لپ

څلورم مخ

دو تن قاتل در ولایت ننگرهار و فراه اعدام گردیدند

دو تن قاتلین بعد از اصدار حکم محاکم قضایي کشور در محضر عام در ولایت فراه و ننگرهار اعدام گردید .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد اسامي خالق داد و لد فیض محمد باشنده قریه رك ولایت فراه به اتهام قتل اسامیان حاجي عبدالعزیز و محمد نادر ساکنان فراه از طـــرف موظفین امنیتي دستگیر گردیده بود در محــضر عام اعدام گردید .

قاتل در جریان تحقیق به جرم خویش اعتراف نموده و بعد از اکمال دوسیه نسبتي آن و حکم محاکم ثلاثه قضایي کشور و تائید عالیقدر امیر المؤمنین محکوم به اعدام گردید .

حکم اعدام در محضر عام در حالیکه محترم الحاج ملا سید محمد اخند والي ولایت

ص ٤

په کراچي کي د اهل سنت دري تنه نامتو علماً په شهادت ورسول شول

په کراچي کي د اهل سنت دري تنه نامتو علماً هر یو مولنا مفتي محمد حبیب الله مختار، مولنا مفتي عبدالسمیع او مولنا محمد طاهر له نورو پنځو تنو سره د ایراني پلوه ورانکارو لخوا په شهادت ورسیدل .

څلورم م

تغییر نام "دولت اسلامی افغانستان" به "امارت اسلامی افغانستان" مبارك باد

مسلمانان مظلوم مهاجر اهل سنت ایران

تبدیل نام دولت اسلامي افغانستان به امارت اسلامي افغانستان را به فال نیك مي گیریم .

امید است که این امر شروع یك حرکت فرهنگي بزرگ در جامعه اسلامي افغانستان براي زدودن آخرین آثار مبتذل فرهنگهاي ضد اسلامي در این کشور اسلامي و اجراي هر چه بیشتر شریعت غراي محمدي «ص» و نزدیك ساختن افکار و اذهان ملت مسلمان افغانستان به واژه هاي سیاسي ناب اسلامي باشد. ملت با سعادت افغانستان باید بدانند : امیر این امارت همچو زمامداران و امیران دیگر نیست .

امیر این امارت بر دلهاي خسته مسلمانان رنجدیده افغانستان حکومت مي کند . امیر این

ص ٤

با استفاده از فرمان عفو عالیقدر امیر المؤمنین یك قوماندان به اردوي اسلامي پیوست

با استفاده از فرمان عالیقدر امیر المؤمنین یك قوماندان بنام خان محمد باده میل سلاح مختلف النوع به تاریخ ۱۰ عقرب با مجاهدین اردوي اسلامي در مربوطات ولایت لغمان پکجا گردید .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : قوماندان پیوسته با مجاهدین اردوي اسلامي ضمن ابراز حمایت و پشتیباني از اهداف و برنامه هاي امارت

ص ٤

به پیمانه وسیع سلاح و مهمات از ولایات مختلف کشور به دست آمد

به پیمانه وسیع سلاح و مهمات از ولایات ننگرهار، پکتیکا ، هلمند، خوست، کابل و فراه به دست آمد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : سلاح و مهمات بدست آمده از مربوطات ولسوالي دره نور ولایت ننگرهار شامل چار میل دهشکه، چار میل راکت آر. پي . جي، سه میل دي بي ، چند میل کلاشینکوف، شصت صندوق مرمي دهشکه ، دوصد و پنجاه فیر مرمي توپ ۸۲ ملي متري ، صد فیر مرمي راکت آر.پي.جي ، سه صد فیر مزائیل و پنجاه صندوق مرمي هاي مختلف النوع میباشد کــــه به اثر سعي و تلاش مجاهدین اردوي اسلامي از قــــراء کولمان و کاشند منطقه مرور ولــــسوالي دره نور بدست آمده است .

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د اسیرو طالبانو خلاصون د الله تعالي رحمت دي

طالبان او مخلص مجاهدین ملګري یي د الله تعالي د شریعت د پالني نازولي لښکر او بي له شکه د الله تعالي دوستان دي نو ځکه د الله تعالي د نورو دوستانو په شان په دوي هم درانده ازمیښتونه راغلل ، زیات کړاونه یي وزغمل او پاکي وینې یي توېي شوي، ډیر زیات یې اسیران، معلول او شهیدان شول رحمة الله تعالي علیهم، دغه شمیره په دي وروستیو کي دشمال د ځواکونو د دوکه بازي په وخت کي تر بل هر وخت نه زیاته شوه، ډیر ویرجن خپلوان یي،د طالبانو اسلامي تحریك منسوبین او د دوي خوا خوږي ورباندي وژړیدل، ختموته، خیراتونه یي وکړل او الله تعالي ته د دوي په هکله د حاجت لمونځونه ډیري زاري او دعاګاني وشوي او لا کیږي ، الله تعالي ارحم الراحمین او مجیب الدعوات دي - جل جلاله و عم نواله - هیڅ وخت د بنده د عاجزي لاس تش نه پریږدي، دا دي چي یو ځل بیا یي تاثیر ښکاره شو :

د طالبانو د اسلامي تحریك له پیل نه تر اوسه پوري د اسلامي جهاد په لاره کي مسلمانانو ډیر خارق العاده کرامات ولیدل، یو هم دا دي چي اوس ددوستم غونډي ډیرین زړه الله تعالي دغو اسیرانو کراموته نرم کړ او بي د چاله وینا او بي له دي نه چي تمه ورته وشي په سلګونو یي خوشي کړل او لري نه ده

دوهم مخ

د کرني د میکانیزي د ریاست ترمیماتي ورکشاپ فعال شو

یوه مربوط خبر ځاي په دي باب د باختر اطلاعاتي آژانس خبریال ته وویل : د کرني میکانیزه د ریاست ترمیماتي ورکشاپ په دي وروستیو وختو کي د کار ګرانو او انجنیرانو د هلو ځلو او د چارو د مسؤولینو د پاملرني له امله بیا فعال شوي دي او د کرني نږدي دولس تراکتورونه یي کارته چمتو کړي دي او د کابل

څلورم مخ

محترم درشنسنگهـ نماینده اهل هنود و سکهـ هاي مقیم افغانستان در مصاحبه با هفته نامه شریعت :

کمیت نفوس اهل هنود و سکهـ هاي مقیم افغانستان از ۱۰۰۰۰۰ نفر به ۲۰۰۰ نفر تقلیل یافته است

پول و مال ما چور شد، جان ما به خطر افتید، خانه هاي ما را مردمان شوراي نظار بزور بخود تباه کردند و حتي به عفت و عزت ما دست درازي شد

تحریك اسلامي طالبان براي ما یك نعمت است و ما در عبادت صبح و شام خود (مرد و زن) محترم عالیقدر امیر المومنین و سایر برادران تحریك را دعا میکنیم

خوانندگان عزیز ! امارت اسلامي افغانستان تأمین حقوق و آزادیهاي مذهبي اهل هنود و سکهـ را در چوکات شریعت اسلامي محترم شمرده و همیشه ساعي است تا در جهت تحقق و گسترش عدالت اجتماعي بین ساکنین کشور ؛ مصدر خدمات ارزنده گردد ؛ همچنان مسؤولین امارت

ص ٤

خبرتیا

د شریعت اوونیزي اداره په بهر کي میشته و افغان مهاجرو ورونو ته چي په شریعت اوونیزه کي ګډون لري او یا په راتلونکي کي ګډون کول غواړي خبر ورکوي چي : د اشتراك وجه یوازي او یوازي په لاندي جاري بانکي حساب را ولیږي او له نورو لارو نه یي له رالیږلو نه ډډه وکړي .

Account No :
71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

به مناسبت چهلمین سالروز وفات مرحوم ملنگ جان یك تن از شاعران کشور محفلي در شهر جلال آباد برگزار گردید

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از جلال اباد گزارش داد در محفل محترم محمد اصف صمیم استاد پوهنځي زبان و ادبیات پوهنتون ننگرهار در رابطه به آثار ، شخصیت و اشعار مرحوم ملنگ جان صحبت نموده زند گي نامه مختصر آن مرحوم را قرائت نمود .

سپس بیاد ریاست اطلاعات و کلتور آنولایت بهمین مناسبت توسط فیض احمد فیض ، قرائت شد .

ص ٤

د خیبر ایجنسي علماء و له اسلامي امارت سره خپل پیوستون اعلان کړ

د خیبر ایجنسي علماء و د یوي لویي غونډي په ترڅ کي له اسلامي امارت سره خپل پیوستون څرګند کړ .

په هغي غونډه کي چي تیره ورځ له همدي امله د خیبر ایجنسي په جمرود په جامعه تعلیم القرآن کي د علماء و او طلبا و په ګډون جوړه شوي وه د باړي لوي عالم مولانا داود شاه ، قاري محمد عظیم ، مولنا محمد عمر بنوري، عبدالستار او یو شمیر نور علماء وینا وي وکړي او د اسلامي امارت سره یي خپل پیوستون اعلان کړ . دي علماء و په خپلو ویناووکي په افغانستان کي د اسلامي

څلورم مخ

تر ټولو ستر خیانت دا دی چه خپل ورور ته یوه خبره وکړی ، په داسی حال کی چه هغه تا رېښتونی وبولی خو ته پخپله دغه خبره کی دروغجن یی

شريعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
دیوې ګڼې بيه : په هيواد کې (١٠٠٠) افغانۍ
په پاکستان کې (٢) کلداري
آدرس : کابل وزير اکبر خان مينه /سرك١١/ کور (٥٢٠)
تيلفون : ٢١٣٨١- توزيع و شكايات ٦٢٨٥٩
پوست بکس : (٤٧١)
په پېښور کې : دطالبانو نمايندګي/ تيلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧
جاري حساب : ٤٠٢٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز

د سرمقالې پاتې برخه

چې پاتې اسيران کرام هم خوشې کړي؛ دوستم چې د افغانستان په مسلمانانو کې سخت منفور دي او ډېر بد شهرت لري د ده هغه ظالم او تور زړه مقلب القلوب الله تعالى په دې هکله نرم کړ او ويې ويل چې: « په شبرغان کې د اسيرانو حال ډېر دردونکي ؤ، د ژوند هيڅ امکانات يې نه لرل، موږ فکر وکړ چې دا کسان په روحي، عقلي او عصبي مرض اخته دي ناڅاپه مو تصميم ونيو چې د بندي خانې دروازه پرانيزو، تر څو دوي د ازادي له نعمت څخه برخمن شي ...! »

دوستم که دغه کارته هر څه هڅولی وي او هره انګيزه لري دغه کار يې نيك کار کړی دی د افغانستان اسلامي امارت به نيك ځواب ورکړي - انشاء الله تعالى - بل بنه کار يې دا کړيدي چې د افغانستان اسلامي امارت ته يې د سولې وړانديز کړي او په اسلام اباد کې يې مذاکراتو ته چمتو والي څرګند کړيدي ، ددغه په ځواب کې د افغانستان اسلامي امارت له ده سره د سولې د پراخو خبرو اترو لپاره سمدستي تياري ښودلي ده او له نورو ډلو سره هم- لکه چې په وار وار د افغانستان اسلامي امارت وړانديز کړي دي - په لومړي ګام کې د اسيرانو په هکله خبرو اترو ته تيار دي؛

اوس به وکتل شي چې د اسلامي امارت نور مخالفين به دورته اقدام جرأت وکړای شي که نه ؟ که چيري يې په زړه کې د سولې او خبرو اترو رښتيني نيت وي نو دا ځل به د اسلامي امارت د وړانديز په هکله - چې په لومړي ګام کې په دغه بشري مسئله (د اسيرانو خلاصون) باندې خبرې وشي- مثبت ځواب ووايي، اميد شته چې ددغې بشري ستونځمنې مسئلې خبرنه او خلاصون د سولې ريښتنو خبرو اترو لپاره زينه شي او الله تعالى د اسيرانو د خلاصون له برکته په ټول هيواد او هيواد والو ورحميږي او د کلونو کلونو کړاوونه مو حل کړي :

تر اوسه پوري د ملل متحد استازو او نورو منځګړو چې په جنرال عبدالمالك هر څومره زور اچولي دي چې د سپه نيت څرګندولو لپاره د طالبانو د اسلامي تحريك اسيرانو ته پا لږ تر لږه هغه رسمي هيئت ته چې د جګړې لپاره نه بلکې د خبرو لپاره ورغلي وو د زندان دروازه پرانيزي نه يوازي دا چې يو مثبت ځواب ور څخه وانه وريدل شو بلکې سره صليب ته يې د هغوي د ليدلو اجازه هم هيڅ نه ده ورکړې. څنې اسير کرام طالبان چې په «نصيب» را خلاص شوي دي او دبنديخانې لوړه تنده او بده ورځ يې بيان کړې ده له انسانانو سره داسې معامله چا نه ده کړې دا په هغه برسيره چې په زرګونو يې د ګلم جمو او د حزب وحدت (د کشتمند له کمونستو او ځنګلي مليشو)لخوا په شهادت ورسيدل - انا لله ... اوس چې د اسيرانو د خلاصون ابتكار دوستم په لاس کې واخيست او دسولې د خبرو اترو نيت يې هم ښکاره کړې دي چې نورو مخالفينو دوغه ابتكار استعداد نه درلوداوس به وليدل شي چې د ده د ائتلاف انډيوالان به له ده سره په دې اقدام کې هم غړي شي که نه ؟

که چيري هغوي په لومړي ګام کې د اسيرانو د خلاصون او بيا د سولې د پراخو خبرو اترو استعداد او شهامت نه لري او بايې واك د بل چا په لاس کې وي نو الله تعالى دې د افغانستان ميړني ، مجاهد او مسلمان ملت د دوي له شر نه په خپل فضل او کرم سره د تل لپاره وژغوري، آمين .

#

د شريعت تبصره

له قم نه پرجګړې د ټينګار ګواښ

څو ورځې مخکې د ناطق نوري په خوله په اصطلاح له مزار نه د قهرمانانه دفاع په خاطر د حزب وحدت په نامه د ايران د حکومت د مبارکي خبرونه خپاره شول، د مبارکي ټکي که هر څه وو خو حقيقت دا دې چې ايران حزب وحدت په مزار کې د ايراني وسلو د استعمال له امله د آفرين او شاباس وړ وباله .

اوس چې د حزب وحدت دولي سرغنه کريم خليلي ايران ته تللی تر څو خپلو بادرانو ته د خپلې خوش خدمتي د رپوټ په وړاندې کولو سره د ايراني وسلو او پيسو نوره سهميه تر لاسه کړي، په قم کې يې د خبريالانو په وړاندې د جګړې په دوام ټينګارڅرګند کړي تر څو دا وښيي چې د ايران د سياسي او اقتصادي اهدافو او ګټو د تحقق په لاره کې يې د جګړې روحيه نده زمولېدلې .

پدې توګه کريم خليلي د خپل قوم او خلکو له وينو او سرونو نه د ايران د اقتصادي او سياسي ګټو په جګړه کې د سونګ د مواد و په څېر استفاده کوي ځکه خو د ايراني واکمنو ژبه د خليلي په خوله کې هغه څه وايي چې د ايران د اورد مهاله په اصطلاح ګټو د دفاع او تضمين لپاره ضروري دي .

د حزب وحدت له خوا په جګړه ټينګار او ... وژنې او وينو توئيدلې په ازمويښت کې د ناطق نوري له خوا مبارکي د ايران او حزب وحدت د نيتونو، خبرو او عمل ډېره روښانه عکاسي او نمايندګي کوي .

مطبوعاتو د باوري رپوټونو له مخې په مزار کې د ايراني پر مختللو وسلو د موجوديت خبرونه خپاره کړل او دا يې په ډاګه کړه چې هلته د حزب وحدت افراد په ايراني وسلو سمبال دي .

ايران په باميانو کې د هوايي ډګر په جوړولو سره ددغه ډول بيشرمانه لاسوهنې لار لا د مخه پرانيستې وه چې اوس مزار ته د هوايي پله له لارې د وسلو او پوځي ماهرينو په لېږلو سره د حزب وحدت مورال پاييللي مليشه د جګړې لپاره هڅوي تر څو د جګړو او وينو توئيدلو لويه ګرمه وساتي .

بروجردي د مزار، باميانو او تهران تر منځ هماغسې سر ګردان دي چې کله هم دجګړي لسبې په کښېدو شي، بروجردي په باميان او مزار راوګرځي او د جګړې اورته بيا ژيغرانده کړي .

په همدې ډول چې کله د پوځي او سياسي تحرکاتو او پر مختګونو له امله د جګړې د پای ته رسيدو هيله پيدا شي ايران بوه نوي توطئه په لار واچوي او د خپلو احتياجاتو په وجود کې بله نقشه وړاندې کړي چې په قم کې د خليلي پر خوله د جګړې پر دوام ټينګار يې څرګند ثبوت دي .

ايران چې د خپلو اقتصادي او سياسي ګټو په تېره په خپله خاوره کې له ترکمنستان نه د ګاز د پايپ لاين غزولو لپاره په افغانستان کې د جګړې اورته په لمن وهلو د اور او وينو کومه لويه پيل کړې هغه ددغه ډول اقتصادي او سياسي ګټو د لاس ته راوړلو لپاره د ايران د جګړه يز جنون څرګندوي ګڼل کېږي .

د افغانستان اسلامي امارت چې پدې وروستيو کې د ګاز د پايپ لاين د غزولو لپاره د سولې او امنيت د ټينګيدو له لارې شرايط او حالات برابر کړې ايران د دغو منافعو د ترلاسه کولو لپاره د خپلو احتياجاتو په واسطه د جګړې پر دوام له ټينګار سره د تويو او پراخو توطئو او نقشو په پلي کولو لاس پورې کړي دي په داسې حال کې چې د افغانستان اسلامي امارت تل د جګړې د پای ته رسيدلو دريځ خپل کړي تر څو نور هم دا ضرورت درك کړي، کريم خليلي د ايران له خاوري د جګړو پر تداوم د ټينګار غږ پورته کوي چې دا په ډاګه ثابتوي چې د افغانانو او افغانستان پر ضد د تېل شوي جګړې تر شا څوك ولاړ دي او څوك ددغه جګړې اورته لمن وهي .

د جګړو پر دوام ټينګار د حزب وحدت ، خليلي او د هغوي د ايراني بادارانو هغه تقشې او توطئې برسيره کوي چې ايران يې د خپلو اقتصادي او سياسي ګټو لپاره د يوه ملت پر تباهي او د وينو او سرونو په بيه د لاس ته راوړلو په هڅه کې دي .

خو تاريخ ثابته کړې چې هيڅ پردي او بهرني د افغانستان په کورنيو چارو کې له لاسوهنې ګټه او خير ندي کړي د پېرنګي او روس انجام د ټولو په مخ کې دي. هيڅ بهرني هيواد له افغانانو سره په دښمنۍ او خيانت کې ندي بريالي شوي، افغانان چې څومره ښه او د باور وړ دوستان کېدای شي همداسې ډېر خطرناك دښمن هم ګرځېدای شي. افغانانو هيڅ کله دا موقع نده ورکړې چې د دوي پر ملي واکمنۍ، او آزادي څوك بلوسه وکړي، ځکه خو سړي په باور سره ويلی شي چې دا به د بهرنيو ارخونو حماقت وي چې له افغانانو سره دښمنۍ وپالي .

پټ مکر

په پېښور کې د امريکې د کلتوري مرکز خپروني «اطلاعات» ١٣٧٦ کال د ١٠٧ ګڼې د لومړي مخ په دويم سر ليك کې راغلي : د افغانستان د بيا ودانولو په هکله د افغاني الاصله امريکايانو نظريات

دا خبر به ډېرو افغانانو لوستی وي خو ما يې په لوستو ټکان وخوړ، زما باور دی چې د نورو افغانانو لپاره به هم لږزوونکي وي .

زما په ګومان پدغه سر ليك کې به څو پردو او لفافو کې له افغانانو ته د امريکايانو جوړولو هڅه شوي ، دا چې ته وړ هڅه زما د عادة چې تا کامه هڅه وګرځي او د مطبوعاتو په وينا په مذبوحانه هڅو کې وګڼل شي .

دا حقيقت دي چې په زرګونو او لکونو افغانان په تېرو دوو لسيزو کې امريکا ، اروپا او د نړۍ نورو هيوادونو ته مهاجر شوي خو دغه مهاجر افغانان په ټولو خپرندويه رسنيو کې د افغاني مهاجرو په نوم ياد شوي ، ددې معنا دا چې امريکا ، اروپا او نور هيوادونه ددغو افغانانو اصلي ټاټوبي ندي او دغه افغانان امريکاييان، جرمنيان، استراليايان ، انګريزان او ... ندي بلکې هغه مظلوم افغانان دي چې د هجرت لړۍ يې پر ګران هيواد افغانستان ديوه جابر او يرغلګر ځواك له پوځي تيري سره پيل شوي او له وروستيو ورانوونکو جګړو سره غزيدلي ده .

هم ددغه مهاجرو او هم د نورو افغانانو دا پوخ تصميم او باور دي چې کله هم د جګړې لمبې خاموشي ، امن، سوله او ثبات را منځ ته شي مهاجر افغانان چې هر څاي دي خپل هيواد ته به راګرځي او د بيا رغونې په چارو کې به له خپل توان استعداد او پوهې ګټه اخلي خو اوس د لومړي ځل لپاره پدغو افغانانو د امريکې ټاپه ولګول شوه، او دعوه پري وشوه، که دغسې دعوې دوام وکړي نو ډېر افغانان به جرمنيان، استراليايان، انګريزان، او ... وګڼل شي ، داسې ښکاري چې امريکې هلته دغو افغانانو ته د پناورګسولو په بدل کې د هغوي ملي هويت او ملي تشخص ته چل جوړ کړي چې دا دي اوس يې د هغوي د سر دعوه راپورته کړه .

مانه د مرحوم محمد موسى شفيق يوه قطعه را ياد شوه دا چې لدې خبرې سره اړخ لګوي او که نه خو ددغه مطلب د ليکلو پر وخت مې حافظې را مخې ته کړه :

د بستان کې د ايشيا چې زه استاد وم
تا ويله هغې وخت کې سپاره
خداي دخوارکړم اوس زمادسردعوه کړي
ته او خداي تو په همدغه قواره

پټې پاڼې

شهرت ننګيال

مرحوم وزير صاحب محمد ګل خان مومند پر وخت کابل د پښتو هډېره بللي ؤ پدې معنا چې دلته د پښتنو کلتور، ژبه، عنعنات، مزاج او پوښتي ځانګړتيا ډېر ژر بدليږي او له منځه ځي او په دريم نسل کې هغه بيا پښتون نشي پاتې کېدای ، دا پر حقيقت دي چې مور تول يې د سر په سرګو وينو .

دا ويره ده چې که جګړې همداسې دوام وکړي په امريکا او اروپا کې د اسرګو مهاجرو افغانانو د راتلونکي نو کم افغاني او ملي ځانګړتيا به وژمولېږي او ورو ورو به په هغو ټولنو کې حل شي، دا انديښنه پدغو هيوادونو کې مهاجرو افغانانو هم څرګنده کړې وه چې ددې لپاره يې ځنې اقدامات هم کړي دي ، خو ښکاري داسې چې امريکه دې ته صبر او حوصله نشي کولي چې هلته د افغانانو دوهم او دريم نسل ته انتظار وکړي چې کله هلته په دوهم او دريم نسل کې افغانيت مړ شي بلکې غواړي د همدغو افغانانو چې د خپل ملي تشخص علمبردار ان دي د مرګ ننداره وکړي او په بله وينا ئي ژوند او تښتلو افغانانو مترقي امريکايان جوړ کړي .

که پدې اړه ما ځواك په بد ګوماني هم تور لوي خو ماته پدغه سر ليك او خبر کې يوه پټكاره پد نيتي تر سترګو کېږي ، دا سمه ده چې په نورو هيوادونو کې مېشته افغانان د هغو هيوادونو د قانون او ... په مرعات مکلف دي ، خو هغوي که هر څومره مجبور هم دي افغانان دي هغه افغانان چې د اسلام او افغانيت لپاره يې د روس او کمونيزم له لاسه وطن پرې ايښې ...

څوك په رضا له ملکه نه ځي .

که داسې واي او افغانانو ځانونه امريکايي ، جرمني او انګريزي جوړولي نو بيا له روسي يرغل او کمونيزم نه د دوي هجرت څه معنا لرله ؟ روسانو خو هم نور څه نه غوښتل بيله دې چې دغه افغانان روسان او کمونستان کړي افغان د داؤد خان په وينا چې بريژنيف ته کړې وه : د افغانان په غربت او خواري وژلې خو دا په هيڅ قيمت نشي زغملی چې يو بهرنی هيواد دې ورته د لارښوونې دريځ ولرلي شي .»

د جرالنيا خبره دا ده چې د خبر په تفصيل کې د هغو افغاني پوهانو نومونه راغلي چې تر شوروي يرغل پوري په کابل پوهنتون کې استادان و امريکې ته د هجرت يې دوی لسيزې لا هم نه پوره کړي .

علامه اقبال به خپل يوه شعر کې پدې هکله وايي :

مير خيل از مکر پنهاني بترس
از ضياع روح افغاني بترس

علامه د افغاني روحيې ضياع يو پټ مکر او سازش بولي او افغانان دې ته متوجه کوي چې پدې اړه هوښيار و اوسي، همدغه پټ مکر چې نږدې ٧ کاله دمخه يې ډاکټر اقبال ويره او انديښنه څرګنده کړې وه په نوي بڼه او رنګ رابرسيره شوي ده .

شجاعت

مولوي نورالله «ناصح»

شجاعت عربي لفظ دي او زړور توب ته يې وايي اصلاً پکار خو دا ده چې د اسلام د سپېڅلي دين هر پيرو د شجاعت خاوند وي خود مسلمانانو مشرانو ته په هره اندازه چه د مسلمانانو مشري په غاړه لري د زړورتوب صفت لازمي دي يې زړه مشر نشي کولاي چه ورسپارل شوي مسئوليتونه د عواقبو د ناوانې کېدو له امله انجام کړي د حضرت علي «رض» څخه روايت دي چې وايي کله به چه جنګ سخت شو مسلمانان او کافران به سره مخامخ شول موږ به ځان په پيغمبر «ص» ساتنه اودي «ص» به دښمن ته له ټولو مسلمانانو څخه نږدې ؤ احياء العلوم

د حضرت رسول اکرم «ص» په هکله په يو روايت کې راغلي دي چې « کان اشجع الناس » . ترجمه : پيغمبر «ص» د ټولو خلکو څخه زيات زړور ؤ علماء، حکماء او هوښياران خلك وايي چې سخاوت سره مملکت کې خوشحالي راځي عدل سره آبادي راځي ، عقل سره هيواد او دولت قايم وي شجاعت سره د وطن حفاظت او ساتنه کېږي او رياست سره سياست چليږي .

مطلب دا چه د حاکم او حکومتي مشر لپاره زړور توب يو لازمي امر دي ځکه چه ددې په واسطه د مملکت د سرحدونو ساتنه کېږي د بدمعاشانو او سر کښه خلکو محبوي کېږي د ظلمونو او ظالمانو بيخ وزي د ناموس او عفت ساتنه کيږي لېږه دا چه د خلافت زيات معاملات په همدې اصل تکيه لري ، يو بې زړه او بې جرأته حاکم نشي کولاي چه پوره کاروته سرته ورسوي په دښمن باندې د بريالېتوب اساسي شرط شجاعت او زړورتوب دي .

عربان وايي : « الشجاعة وقاية والجبن مقتلة » ترجمه : زړورتوب حفاظت او ساتنه ده بې زړه توب وژنه او تباهي ده .

همدغه راز وايي : «الشجاع مرئي والجبان ملقي » ترجمه : زړور ساتلی شوي دي او بې زړه پرېښودلی او سړدي حضرت خالد بن وليد «رض» الله تعالى ښه په چه کله د مجاهدينو صفونه پاړول منځ کې به يې کرځېده او ويل به يې : يا اهل الاسلام إن الصبر عز و إن الفشل عجز و إن مع الصبر لنصر . ترجمه : صبر عزت، بې زړه توب عاجزي، او صبر سره د الله پاك «ج» نصرت او کومك ملګري کړي دي .

همدغه راز نوشيروان وايي : عليکم باهل الشجاعة والسخاء فانهم اهل حسن الظن بالله .

ترجمه : تاسي باندې لازم دي چه زړورو او سخيانو خلکو سره ملګرتيا وکړئ ځکه دوي په خداي «ج» ښه ګمان لري. مطلب دا دي چه زړور خلك وايي خداي«ج» به مې حفاظت کوي سخيان خلك وايي څه چه مصرف کړم خداي«ج» به عوض راکړي او احسان نه کوي .

هوښياران وايي : استقبال الموت خير من استدباره . ترجمه : مخامخ مرګ د پسې شا د مرګ څخه بهتر او ښه دي حضرت علي «رض» فرمايلي دي : بقية السيف انمى عدداً و اطيب ولداً ترجمه : کوم وطن يا کور کې چه د الله «ج» لپاره تورو وچليږي د هغوي ولاد هم زيسانيږي او پاك اوسوجه هم راځي .

له حضرت علي «رض» څخه دې خداي «ج» راضي شي څه عجيبه حق او رښتيا خبره يې کړې ده.

په ګران هيواد افغانستان کې چه کومه توره د شرميدلو روسانو په مقابل کې وچليده او څومره ډېر مسلمانان شهيدان شول بيا هم الحمد لله د سر په سترګو وينو چه د نفوسو په تعداد کې هم اضافه ورسره راغله او د ديني علومو څومره پنګان هم پيدا شول چه اوس د شر او فساد اچيرانو د ورکيدو اصلي وسايل دي .

اوس موږ او تاسي ګورو چه د نفسو او ظالمو عناصرو له لاسه بيا هم په زيات شمير کې مسلمانان شهيدان او تر اوسه يې لړۍ روانه ده نو دحضرت علي «رض» وينا بايد هر مسلمان ته په ذهن کې حاضره وي خداي«ج» به نور را پيدا کړي تر ترپاينده کې د خپل مبارك دين ساتنه او حفاظت پري وکړي . دلته يو سوال له ځينې خلکو سره مطرح دي او تشويش لري چې خداي نخواسته که د طالبانو اسلامي تحريك ناکامه شي بيا به څوك د دين يا ملا نوم هم په خوله وانخلي رښتيا خبره دا ده چې دا تشويش په واقعيت بنا نه دې الله په دې هکله فرمايي: ولا تهنوا ولا تحزنوا ... ترجمه : مه سستيږئ او مه غمجن کيږئ تاسي کامياب او پورته يې په دې شرط که مؤمنان يې دا سوال کوونکي وروته بايد خپل تشويش له مخه شي چې دغه تحريك که ايت کريمه کې راغلی شرط پوره کړې هيڅکله به ناکامه نه شي او که هر چه دا شرط پوره نکړي نو د هغه بدنامي او حجالت يقيني دي لکه چه سلجوقانو او کمونستانو په مضراتو تر سره شوه هغوي يوازي د سپکاوي او ذلت سره مخامخ شول پاتې ملت بيا د اسلام د دين د تطبيق لپاره سنګره او خبراتونکي قرباني ورکړه دا ځکه چه دا ملت مسلمان دي اسلام يې په خپله کې اتقول شوي د همېش لپاره د اسلام او مسلمانانو په ځنګ کې ولاړ وه او مستقبل کې به هم خپل پخواني مسوولیت ادا کوي .

تنبيه : څوك چه د اينده په باره کې ډېر سوچ او فکر کوي هغه سړی زړور نه وي بلکه ډېر بې زړه انسان وي لکه چه حضرت علي «رض» وايي :

من اکثر النظر في العواقب لم يشجع .

ترجمه : څوك چه د انجام او عواقبو باره کې زيات فکرمند وي زړور به نه وي . د پورتني مضمون زياته برخه د عقل الفريد څخه اخستل شوېده

د حضرت انس «رض» څخه روايت دي وايي : رسول اکرم «ص» د ټولو خلکو څخه زيات د ښو اخلاقو خاوند ؤ د ټولو خلکو څخه زيات سخي ؤ د ټولو خلکو څخه زيات زړور ؤ يوه شپه په مدينه منوره کې څه ويره پيدا شوه خلك د يو نا معلومه آواز خو اته لاړل حضرت رسول اکرم «ص» د ټولو څخه مخکې دې او از خوانه ورسيد او ويل يې « مه ويريږئ مه ويريږئ » په داسې حال کې چه د ابو طلحه «رض» په شالوځي اس سپور ؤ او په غاړه کې يې توره وه د آس په باره کې يې وويل « د بحر په ډول مې پيدا کړ » مطلب دا چه ښه منډه يې وهله . - بخاري- مسلم - مشکاة-

ددې حديث شريف څخه معلومه شوه چه په ټولو خطري ځايونو کې بايد مشر د ټولو خلکو څخه مخکې وي همدا راز پيغمبر «ص» فرمايلي دي :« الامام جنة يقاتل من ورآئه» ترجمه : مشر يا امير ډال دې جنګ به ددې د شا څخه کولای شي . هر مشر بايد په هره اداره يا هم قوځي جمع ځای کې د خپلو ټولو افرادو څخه زړور وي تر څو د مسلمانانو کاروته او د دين حمايت او ساتنه په اصلي ډول تر سره شي .

پولاد د توري شرنګه

محمد نذیر احمد زي

اي زما ښکلیه هیواده
ځومره ښکلي دي فضا ده
میړني دي زېږولي
ښایسته کړي دي دنیا ده
افتخار د تاریخونو
هم نښان د عظمتو يي
ټول جهان ده دا منلي
چي زانګو د غیرتو يي
بیټ نیکه چي څه غوښتلي
رب هغه دي پوره کړي
یو په زرو حسابیږي
په «زرو» دي زغلولي
د «پولاد» د توري شرنګه
د ملالي نام او ننګه
د «محمود» همت ته ټیټ دي
«صفوي» هر یو سرهنګه
سومنات کي نښاني دي
بت شکن محمود کیسي دي
په مر هېڅ باندي ور دروموِ
بیا ځپانده مو جذبې دي
ګورګینیان بي حیایي کړي
روس بچیان بي پلوي کړي
را اوچت بیا میرویس خان کړه
«سرکوزان» دي سرکوزي کړي
بیا به ورکړي سبقونه
بري ګواه دي تاریخونه
هر طالب علم نیولي
اوچت بیا دي تکبیرونه

غزل

ملا اسد الله «حنیفي»

بیا په منګورو زلفو خپل مین نه تال ور کوي
که نغمه د حسن وروره زوال ور کوي
بیا د چمن په لوري دروموِ شهنشاه د حسن
چانه حیات، چانه ممات، چانه وصال ور کوي
بیا به په ډیرو مور خوږ لوز له جوړه کړي
چي غوټۍ زړو نه نورګ د وېتو خال ور کوي
ملګرو ساتي زړونه ساتو نه کوه ګري لیلي
چي د خپل حسن په جدو د مېني خیال ور کوي
«حنیفي» ګیر شو د ښایست په افسون ګره لومه
ځکه غزل ته سحر ګر غوټۍ جمال ور کوي

غزل

صدیق الله بدر

بیا دي ژړېږمه وعدي په سلګو
بیا له ماښامه دي دیوي په سلګو
یاران په ځان پوري بي چیرته اخلي
که نه اشنا دي بارانې په سلګو
بیادي زما په اوسکو وخندلي
بیاراستني دي کړي جرګي په سلګو
ګوره زګیروي زما د پاکو جذبو
خولي ته مي راغللي توبي په سلګو
سحر ماښام چي په کي ورك وم بدره
هغه د مېني دي کوحي په سلګو

د ادب مرغلري

ډیوه مي بله شوه

وفایار

نوره شپه رڼا شوه چي د قاه ډیوه مي بله شوه
ځکه مي شمله شوه د ننګ ، ناه ډیوه مي بله شوه
پاکي شوي کوځي له رقیبانو، غمازانو نه
هو! د کور او کلي په هر باه ډیوه مي بله شوه
بیا به میوه داري وني څوك په تبره نه وهي
دا چي د شریعت ښکلي نظاه ډیوه مي بله شوه
نور به ونځوران په تورو شپو کي زګیروي ونکړي
هر مظلوم، یتیم ته د ماښام ډیوه مي بله شوه
ملانې چي تړلي وه هغه سوبه تر سره شوه
نن د غښتو ارمان او پاك اسلاه ډیوه مي بله شوه
لاري پاکي شوي له خطرو څخه ونلي دي
خدایګو! به لوښتو، لوښت او ګاه به ګاه ډیوه مي بله شوه
زما د مجاهد ولس سره ویښو تمر رالوېلو
خوښ یم «وفایار» چي د مراد ډیوه مي بله شوه

حماسي

رازقي

تلپاتي به نبه نوم دي د میړونو حماسي
وطن د ننګیالیو د ننګونو حماسي
میوند کي حماسه لا د ملالي ده ژوندۍ
خلاندي وي مدام د شهکارونو حماسي
مشعل د ازادي چي چا ساتلي تل روښانه
روښانه به يي تل وي د یادونو حماسي
اصیل زوي د افغان په غیرو نه څرګوي پټ
ویارلي پسي ساتي د ویاړونو حماسي
د ننګ شملي چي چا په سر ښندلو وي جګي کړي
لا لوري به يي تل وي د یرغونو حماسي
ننګیني ماتي ، پاتي چي پر ځان منلاي نه شي
سر ښندل يي وي همیش د غیرتونو حماسي
ناجي چي د وطن د ازادي او ژغنی شي
په مینه به يي ستا یم د وختونو حماسي

د تورو بورجل

حافظ

نور به ورځي خو مور، له تولو نه اول ورځو
د نازنین ځمن د تورو په بورجل ورځو
له هري خوانه دي وریږي د اجل ناوکي
مور، د میني لیونۍ سم په اجل ورځو
خیر که په لار د میني پانه پانه ورژیدو
جوړ سره ګلونه یي لپاره د وربل ورځو
د محبت لاره خو تل ښکلي په ونیو پاتي
راځي چي ځوله یوي مخي په دي پل ورځو
که د ګلونو په ځاي لاره له اغزو وي ډکه
پروا مو نه شته مور، د ګلو په تکل ورځو
که د جانان د زلفو شپه او تورږمي خپره وي
مور شاعران یو په رڼا کي د غزل ورځو

اسلام عقیده و جهاد است

«جهید»

آمد بجهان نظام اسلام
محصول جهاد ، قیام اسلام
اسلام چقدر جذاب و شیرین
صد شکر و سپاس بنام اسلام
شد محو بساط کفر و بیداد
آسایش و امن پیام اسلام
آئین مقدس مسلمان
زیبایي و حسن تمام اسلام
انفاذ شریعت گرامي
مقصود نکو فرجام اسلام
کي رالا برد به راه اسلام
هر کو گذاشت مرام اسلام
اسلام عقیده و جهاد است
آ! در خرم امام اسلام
بشنو کلام ذات سبحان
قرآن کریم کلام اسلام
مقدار و مراتب شریفش
کرد نظم «جهید» مقام اسلام

ځی چي ورخو!

«سمیع»

زلمیانو د دښمن په سنګرو ځي چي ورځو!
ګټلي چي ئن مور، نه ستړو یارونه شهیدانو
چي لار رانه سلطه د منزل په لوري سه شي
که لاري غرونه غرونه رانه مخکي هر قدم شي
کرلي دښمنانو کسه اغزي رانه په لارو
«مینا، مینا» وطن کي شهادت مو چي نصیب شي

د فتحي او بري په امیدو ځي چي ورځو!
سلام ته يي د زړه په تکبیرو ځي چي ورځو!
د خپل زلمي شهید په تاره پلوځي چي ورځو!
خبره کي د ننګ په ډنګو غرو ځي چي ورځو!
په سر ددي اغزیو په ننو ځي چي ورځو!
خوښي نه د الله په ترانو ځي چي ورځو!

د سولي خوشالي مو چي په ټول وطن خوره شي
د جنګ جګړي پالونکو! په مورچو ځي چي ورځو!

کورني فقه (۱۰)
